Download from:aghalibrary.com



# ژورنالیزم که د اسلام دفاعي مورچل

*لیکوال: ابو خلیل قدوسي*

زمادا لیکنه د بیان او فصاحت هغو اتلانو ته ده څوک چي د صحافت او خبریالي او یا په اصطلاح د ژورنالېزم په ډګر کي کار یا زدکړي او تجربې کوي او د خپل ژوند خوږې شپې رو‌ڼوي تر څو نړۍ ته هغه رسالت ورسوي کوم چي هغوی ته د خپلي دندي په اساس ور په غاړه ده

# ژورنالېزم که د اسلام دفاعي مورچل

دوشنبه، ۱۱ اپرېل ۲۰۱۱ ۰۵:۲۴
نن ټکی آسیا

د ټولي او بشپړي ستاينې وړ يوازې هغه پاک ذات دی چا چې په مونږ انسانانو دقلم غوندي دزدکړي غوره وسيله لورولي ده او د هغه په وسيله يې مونږ ته هغه څه راښوولي دي کوم چې مونږ بالفطرت په هغه نه پوهېدلو او د الله تعالی رحمتونه د وي د هغه په رېښتوني هغه استازي چې په خپله يې په لېک اولوست نه پوهنه يوه الهي معجزه وه خو لومړی داعي وو چې د الله تعالی په حکم يې دپوهني لاس ته راوړل په هر نر او ښځه فرض ګرځولی دی او د هغه په ملګرو او د اسلام په علماوو او پوهانو چاچې دا الهي امانت او نبوي رسالت تر مونږ پوري بې له کم او کاست څخه را رسولی دی.

په دې کي څه شک نشته چې د الله تعالی ښېګڼي په بني نوع انسان باندي له اندازې څخه دومره زياتي دي چې په شمېرنه کي نه راځي الله تعالی فرمايي:

وَآتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ (۳۴) سورة إبراهيم

او هرڅه چې تاسو غوښتل هغه الله تعالی تاسو ته ټول درکړي دي اوکه تاسو د الله تعالی نعمتونه او پېرزويني ګڼئ خو وبه يې نه ګڼلای شئ په رېښتيا سره چې انسان ډېر ظلم کوونکی او ډېر ناشکره دی.

او د الله تعالی له همدغو نعمتونو څخه يو هم د بيان او فصاحت هغه نعمت دی چې الله تعالی د انساني ټولني په ډېرو لږو افرادو پېرزو کړی دی ، کوم چې انسان ته د هغه څه په تعبير باندي برلاسی ورکوي کوم چې د هغه په کوګل کي ناځي اود هغه دزړه او دماغ په کوڅو کي چکري وهي.

په همدغو انسانانو کي يوه ډله هغه څوک دي چې له دې نعمت څخه د حق د کلمې د اعلاء او د اسلام د مبين دين د چوپړ لپاره کار آخلي الله تعالی د يې په هڅو کي برکت واچوي او لاسونه د يې تل تر تله روغ رمټ وي.

بله ډله هغه څوک دي چې له دې نعمت څخه ناوړه ګټه آخلي خپل نفس او شيطان غولولی وي او د هغوی دليکنو نوره هيڅ ګټه نه وي يوازې د دين د بنيادونو دورانولو، دمسلمانانو تر مېنځ دکرکي او نفرت داچولو لپاره يو کولنګ وي هغوی ته يوازې دومره ويلای شو چې الله تعالی مو هدايت او رهنمايي په برخه کړه.

زمونږ دا یقین او باور دی چې د اسلام دین به د قیامت تر ورځې پورې بله وي ،د چنګېز، تاتار، انګلېس او کمونېزم ناتاړونو دادین محو نکړ اونه به یې نور یرغلونه که اوس دي اوکه په راتلونکي کې له مېنځه یوسي ځکه چې الله تعالی د دې دین د ساتنې هوډ کړی دی فرمایې:

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ (۹ ) سورة الحجر

مونږ هم د غه وعظ او نصېحت (قرآنکریم ) (زمکې ته ) را ښکته کړی دی او مونږ به ضرور د هغه تل ساتنه کوو.

خو دا دمونږ مسلمانانو رسالت او مکلفیت دی چې د دې دین لپاره به په هره سطحه چوپړ وهو اود الله تعالی راکړي نعمتونه به په همدغه د حق په لارکې استخداموو، ولې نه چې اوس د انبیاوو سلسله قطع شوې ده ، د بشریت د رهنمایي او د الله تعالی لورته د بلنې دنده مسلمانانو ته ور په غاړه ده ځکه خو الله تعالی دې امت ته په ټولو امتونو غوره والی او برتري ورکړې ده قرآنکریم مسلمانانو ته خطاب کوي فرمایې:

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ (۱۱۰) سورة آل عمران

تاسو غوره امت ځکه یاست چې په نېکو کارونو د حکم کولو لپاره او له بدو کارونو څخه د منع کولو لپاره دې انساني ټولنې ته را اېستل شوي یاست او هم به په الله تعالی ایمان لرئ ، که اهل کتابو ایمان راوړی وای دا به دهغوی لپاره خیر وای ، په دوی کې ځېنې د ایمان خاوندان شته خو اکثریت یې فاسقان او بد کاران دي.

دا رسالت د ټول امت دی خو د کته ګوري په لحاظ د هغه چا مسئولیت تر ټولو زیات دی چې الله تعالی ورته د علم او پوهنې تر څنګ د فصاحت ، بیان او د لیکنې استعداد ورکړی وي الله تعالی فرمایې:

وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (۱۰۴) سورة آل عمران

ستاسو له مېنځ څخه د خامخا یوه داسې ډله وي چې هغوی د ښېرازۍ لورته بلنه ورکړي او په ښو کارونو امر وکړي او له بدو کارونو څخه (خلګ ) راوګرزوي او همدغه کسان (په دنیا او آخرت کې ) بریالي دي.

مفسرین د دې آیت په تفسېر کې لیکي چې په دې آیت کې مخاطبه ډله علماء او پوهان دي.

زمادا لیکنه د بیان او فصاحت هغواتلانو ته ده څوک چي د صحافت او خبریالي او یا په اصطلاح د ژورنالېزم په ډګر کي کار یا زدکړي او تجربې کوي او د خپل ژوند خوږې شپې رونوي تر څو نړۍ ته هغه رسالت ورسوي کوم چي هغوی ته د خپلې دندي په اساس ور په غاړه ده ، په چاچي الله تعالی دا نعمت لورولی دی او په دې ډګر کی یې په نښه شوی مهارت او د شهرت مقام تر لاسه کړی دی ، هغوی ته زما دا کرښې د هغې میني او وفا زېږنده دي کومه چي زه یې له هغوی سره لرم، هغوی که خپل قلم د ایمان په رڼا کي د شرعي موازینو له په نظر کي نېولوسره روغ وچلوي نو زه په ټېنګ باورسره ویلای شم چي اجر اوثواب به یې له هغو مرابطینو او د اسلام له سپاهیانو څخه کم نه وي څوک چي تل د اسلام په مورچل کي له دښمن سره جنګېږي او د اسلام د بندرونو ساتنه کوي دا ځکه چي د نظامي سنګرترڅنګ تبلیغاتي مورچه فعاله ساتل د بري د لاس ته راوړلو لپاره یوه لازمي برخه ده نو راځي چي څه ډول هغه رسالت چي مونږ ته د یوه مسلمان په صفت د صحافت او لیکوالي په ډګر کي را په غاړه ده سرته ورسوو په دې هکله خواله سره وکړو.

نن ورځ صحافت او یاژورنالېزم د عمومي ذهنیت په جوړښت کي د پام وړ رول لوبوي او د لوستونکیو د خبرېدلوهغه مرجع جوړوي کوم چي هغوی د نړۍ له حالاتو ، روانو چارو او خبرونو څخه خبروي په دې اساس ژورنالېزم د نړۍ والو اوسېمه ایزو نوښتونو اساسي منبع ګڼلای شو ، ځکه خو هغه ته د هغو لاسونو په اعتبار چي دا وسله کاروي یوه داسي وسله ویلای شوکه د امانتداراواو وېښو انسانانو چې په صحیح مسیرکی یې کاروي په لاس کي وي د ځورېدلیو پرګنو د امیدونو او آرمانونو دتحقق کار ورڅخه آخېستل کېږي ، او که د بېباکه انسانانو لاسونوته ورسېږي کېدای شي عمومي ذهنیت ګمراه ، حالات نور هم سره ګډوډ او اوضاع نوره هم کړکېچنه کړي او بالآخره پخپله د هغه هم غاړي غوڅي کړي.

د ژورنالېزم د مسلک ورونه هم ددې اسلامي امت د جسم د یوه اندام حیثیت لري په داسي حال کي چي ټول قومونه اوپرګنې د خپل راتلونکي د جوړولو لپاره په سیالۍ سره کار کوي هغوی ته په کار ده چي په لومړي قطارکي ودرېږي، اود سیمي په سطحه دخپل اسلامي هېواد او مسلمان ملت او په نړیواله سطحه د ټول اسلامي امت د ګټو د خوندي ساتلو لپاره لېځي ور ونغاړي ، دا کار اخلاص ، بشپړ زیار او هڅواو مهارتونو ته اړتیالري ، همداراز هغوی باید په داسي ثابتو اخلاقي معیارونو سمبال وي چي له هر ډول انحراف او ښوهېدني څخه یې راوګرځوي ، هغوی ته په کارده چي د راپورتاژ او سیاسي څېړنو په تهیه کولو او خپرولو کي تر هرڅه د مخه د الله تعالی دمراقبت او څارني ټېنګ خیال وساتي.

الله تعالی فرمایي:

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ (١٨) سورة ق

هیڅ داسي یوه خبره د بنده له خولې څخه نه راوځي مګر له هغه سره دوه لیکونکي فرشتې دي چې هر وخت ددې لپاره د تیارسۍ په حال کي وي چې هغه ثبت او ولیکي.

مفسرین لیکي چې دوه ملائکه دورځي لخوا په هرانسان مکلف دي چې تر ماښامه د هغه ټول کړه وړه ثبتوي او دوه بیا د ماښام له خوا تر سهاره پوري موظف دي چې د هغه انسان اعمال او اقوال ثبت کړي، او هر سهار او ماښام د انسان د کړووړو راپور تاژ د الله تعالی حضور ته وړاندي کوي.

د ژور نالېزم په ډګر کي انحراف ډېر ژر په دې وجه ممکن دی چې په هغه باندي کوم سانسور او قیودات نشته، یواځیني قیودات هغه داخلي رقابت دی چې یو مسلمان ژورنالېست یې دداخلي تقوا او وېښ ضمېر په اساس احساس کوي کوم چې دا احساس هغه د شیطان په لومو کي له ښکېل کېدلو څخه راګرزوي.

زما پخپله په دې ډګر کي پوهنه نشته خو هغه چا چې دا مسلک یې په منظم شکل لوستي وي هغه به ددې مسلک په اصولو او ضوابطو ضرور زیات خبروي خو دلته چې مونږ د کوم څه د لیکلو لپاره لېځي رانغښتي دي هغه ځیني اسلامي مقررات دي چې باید په پام کي ونیول شي.

ترڅو خبره زیاته اوږده نه شي هغه څه چې زمونږ ددې بحث بنیادي مقصد دی هغه داچې یو مسلمان ژورنالېست ددې لپاره چې دا مقدسه وظېفه په مطلوب شکل اداکړي او هغه رسالت چې هغه ته دده د مسلک (Proffession) په اساس ورپه غاړه ده سرته ورسوي څه باید وکړي ددې پوښتني د لنډځواب لپاره راځی دا لاندي کرښی وګورو:

۱ -ترهرڅه د مخه باید هغه خبري منابع چې یو مسلمان ژورنالېست ورڅخه خبرونه لاس ته راوړي باید اخلاقاً پټې وساتي او د هغو تعهداتو پابند واوسي کوم چې دده او هغې منبع تر مېنځ ورباندي اتفاق شوی وي تر څو خبري منبع ته نقصان او ضرر و نه رسېږي ، ډېر داسي ژورنالېستان مو آورېدلي دي چې کله تر تحقیقاتو لاندي راشي هرڅه معلومات ورکوي خو د معلوماتو منابع نه ښیې همدا سي ژورنالېستانو ته ټولنه اړتیالري دا ځکه چې د رازونو لوڅول د امانتداري خلاف کار دی او سترخیانت بلل کېږي الله تعالی فرمایي:

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ(۸) سورة المؤمنون

او هغه کسان کامیابه او بریالي دي څوک چې د خپلو امانتونو او تعهداتو ټېنګ خیال ساتي چې خیانت او دوکه به نه پکي کوي.

بل دا چې د اسلامي شریعت له مخي مونږ مکلف یو د تعهداتو په ټینګه پابند واوسو . الله تعالی فرمایي:

وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا (۳۴) سورة الإسراء

تفسير : او تاسو په هغو ژمنو وفا كوئ كوم چي له الله تعالى او د هغه له بندگانو سره موكړي دي او په رښتيا به د كړيو ژمنو په هكله پوښتنه درڅخه كيږي.

۲ -كوم معلومات چي لاس ته راوړي هغه په امانتداري سره په بشپړه توگه كټ مټ خپرندويه وسايلو ته رسول دی، نه داچي دسياسي مقاصدو لپاره په هغه كي د كمي او زياتي لوبي وشي ، دا ځكه د اسلامي امت جوړښت د سالمي پوهوني او صحيح معلوماتو په اساس دی او روغه پوهونه هغه وخت امكان لري چي پوهوونكي په هغه څه كي چي را نقلوي يې او وړاندي كوي يې د امانتداري خيال وساتي الله تعالى فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ (۲۷) سورة الأنفال

اې د ايمان خاوندانو تاسو له الله تعالى سره او د هغه له رسول سره خيانت مه كوئ او مه په هغو امانتونو كي خيانت كوئ چي تاسو يې يوبل ته وسپارئ په داسي حال كي چي تاسو پوهيږئ چي د امانت پالل واجب دی.

۳ -يو ژورناليست بايد موضوعاتو ته د خپلي پوهني له مخي او د اوضاع له په نظر كي نيولو سره د اهميت په اساس د ړومبي توب ترتيب وركړي او هغه نتايج په پام كي ونيسي چي دوړاندي شويو معلوماتو په وجه د عمل په ډگر كي را مېنځ ته كيږي ځكه چي كله يو راپور خپور شوی نه وي مړ وي چي كله خپور شي عكس العملونه راپاروي چي ځيني يې عامو مسلمانانو ، ياځينو شخصيتونو ، يا مؤسساتو ته او يا پخپله د راپور وړاندي كوونكي ته تاوان رسوي ، او يا ديوې عقيدې، مذهب، تگلارې، مفكورې يا كوم شخصيت سپكاوی په كي شوی وي.

د راپور په وړاندي كولو كي بايد د هغه گټي او ضررونه په پام كي ونيول شي نه داچي د مسابقې په شكل چي څه لاس ته راوړي او تر نورو يې مخكي خپرولو ته وړاندي كړي، مونږ دانه وايو چي له ژورنالېزم څخه د لاس واخيستل شي بلكي زمونږ مقصد يوائي دادی چي د ژورنالېزم وظيفه بايد د اسلامي اصولو او اخلاقي ارزښتونو په چوكاټ كي سرته ورسيږي.

۴ -يوې وړې خبرې ته د غټي بڼه او غټي خبري ته د وړې بڼه ورنه كړل شي او حقايقو ته د مادي گټو او يا ځان غوښتني په اساس تغير ورنه كړل شي ، بل داچي د ژورناليست مسئوليت دی چي هره خبره تول كړي او لكه چي مو وويل د اهميت په اساس ورته مناسب حجم اوځای وركړي ، د معلوماتو محتوا په پام كي ونيسي او د هغې په اساس مناسب سرليک وټاكي ځكه چي ډېر مو ليدلي د ورځپاڼي په مخ وېروونكيه لويه سرخي ليكلي وي خو چي كله د هغې سرخي تفصيلات وكتل شي اويايي تحقيق وشي دومره اهميت

به نلري او یا به دروغ وي او یاچي معلومات وکړي هېڅ به نه وي پېښې شوي آیا دا د عامه ذهنیتونو ګمراه کول او د خلګو د جېبونو لوټول نه دی نو څه دی؟

۵ -بل داچي مونږ په یوه داسي عصر کي ژوند کوو چي حالات په کي کړکېچن او فتني په کي زیاتي دي یو مسلمان ژورنالېست باید په داسي متشنجه اوضاع کي تر هرڅه د مخه د ثبات او وېښتابه په فکر سمبال وي په دي پېړۍ کي چي جګړي او شخړي د نړۍ په سطحه زیاتي دي مسلمان ژورنالېست تر هرڅه دمخه د هغو معلوماتو په هکله چي لاس ته یې راوړي باید د رېښتینوالي او دروغو پخلی وکړي نه داچي په څه خبر شو هغه سمدلاسه نشر ته وسپاري ځکه چي الله تعالی فرمایي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ (٦) سورة الحجرات

تفسیر: اې د ایمان خاوندانو که تاسو ته یو فاسق سړی یوه خبره راوړي نو د صحت او دروغو په هکله یې پوره تحقیق او بشپړ معلومات کوئ ثبات خپلوئ او په فوري عکس العمل لاس مه پوري کوئ ددې له وېري چي یوه قوم ته به د غلطو معلوماتو په وجه تاوان ورسوئ او بیا به تاسو په هغه څه چي کړي مو وی پښېمانه یاست.

کله خو د معلوماتو په وړاندي کولو کي تلېواره نه یواځی داچي د هغه ژورنالېست اجتماعي او ټولنېز حیثیت ته صدمه رسوي بلکه د هغه دین او عقېدې او ملت ته هم یو ستر ګواښ متوجه کوي چي مسئولیت به یې په دنیا او آخرت کي د هغه په غاړه وي.

۶ -د مسلمان ژورنالېست ټولي څېړني او سیاسي تحلیلونه باید د اسلام په اصولو بناء وي ، د هغه تنقیدونه باید د اصلاح لپاره وي، د هغه پرېکړي د شریعت او عقل په چوکاټ کي وي او عادلانه وي ، نه داچي د احساساتو او عواطفو په نتېجه کي وي ، ځکه چي احساساتي لیکني تر ګټي زیات نقصانونه رسوي ، هغه د اختلاف او تنقید په صورت کي د انانیت او تعصب لاره نه خپلوي بلکه تر هرڅه زیات ورته د حق او حقیقت پلوي ارزښت لري:

جاء رجل إلى عبد الله بن مسعود فقال علمني كلمات جوامع قال تعبد الله ولا تشرک به شيئا وتزول مع القرآن أينما زال ومن جاءک بصدق من صغير أو كبير وإن كان بغيضا لک فاقبله منه ومن جاءک بكذب وإن كان حبيبا أو قريبا فاردده عليه (تاريخ مدينة دمشق(

عبد الله ابن مسعود رضي الله تعالی عنه ته یو سړی راغی او ورته ویې ویل چي ماته یو څو جامعي خبري وکړه هغه ورته وفرمایل: چي د الله تعالی بندګي کوه او شریک مه ورسره نیسه او له قرآنکریم سره پیوست اوسه هرچېرته چي وي او که یو څوک رېښتیا درته ووایي خواه که هغه لوی وي او که کوچنی وي منه یې

ولوکه هغه ستا دښمن هم وي او چي يوچا درواغ درته وويل خواه که هغه لوی وي او که کوچنی وي مه يي منه ولوکه هغه ستا دوست هم وي او خبره وروا پس کوه.

د مسلمانان ژورنالېست نظر لېږي لګېږي هغه خونه په خطا باندي پټ خولی پاته کېږي او نه دغلطي خبري ملاتړ کوي بلکه تر وسه وسه پوري د غلطي د ازالې لپاره د حکمت لاره په هغه شکل خپلوي چي نتيجه يې مثبته تسلي بښونکي او د ټولو په ګټه وي.

۷ -د مسلمان ژورنالېست سينه د هغه چا په وړاندي پراخه وي چي له ده سره د رای اختلاف او د نظر توپير لري ، لطيف او نرم مزاج وي ، دځان او د مقابل لوري په مېنځ کي د نظرونو اختلافات په خپرندويه وسايلو کي ددښمنيو د څرګندولو لور ته نه بيايې مګر که يې پوخ يقين شي چي د مقابل لوري نظر يې غلط دی او په خپل باطل نظر باندي ټېنګ دی او که پټه خوله پاته شي عمومي ذهنيت بېلاري کوي بيا چي يې خوښه وي هغه د حکمت لاره ورسره غوره کوي ترڅو چي خلګ پرې خبرشي او دهغه په باطل نظر ونه غولېږي.

۸ -د مسلمان ژورنالېست ترهرڅه ړومبی په فکرکي د مسلمانانو او اسلامي امت خيرخواهي وي ، د هغوی ستونځي او مشکلات څېړي او دنړۍ خپرندويه وسايلو ته يې په هغه شکل رسوي چي د نړۍ والي ټولني پام او همدردي د هغوی خواته ور واړوي، هغه که هرچېرته وي که په ختيځ کي وي او که په لوېديځ کي او که په هره سطحه ژوند کوي خو د خپل اسلامي امت او مسلماني ټولني غم يې ملګری وي ،کله هم مادي ګټي ، ذاتي مصلحت ، مقام او موقعيت د هغه او دې فکر تر مېنځ خنډ نه پرېوزي ، هغه که په لوېديزه بې دينه چاپېريال کي هم وي خو د اسلام دښمنانو ته چک چکي نه وهی اونه دهغو لادينو افکارو او تبليغاتو په وړاندي پټه خوله پاته کېږي کوم چي د اسلام د مورچلونو د سپاهيانو په ضد خپرېږي.

۹ -مسلمان ژورنالېست له اسلام سره دميني په اساس د اسلام د علماوو قلباً او قالباً احترام ساتي ، کله هم د اسلامي امت فقهي مراجعو(علماوو ) ته په سپکه سترګه نه ګوري ، د هغوی په خلاف تبليغات نه کوي او د هغوی ځيني اشتباه ګاني (که چېرته وي) له هغو څخه ددښمنانو د خوشاله کولو او د هغوی د سپکولو لپاره کار نه آخلي،هغه کله هم د علماوو اشتباه ګانو ته سترګي په لاره نه وي چي څه لاس ته راوړي ورته خوشاله وي او ورپوري مختاړونه او روستاړونه وتړي اود هغوی د توهين په منظوريې خپرندويه وسايلو ته ورسوي، هغه په دې پوهېږي چي که علما دټولني په نظر کي منفور شي بيا يې څوک حقي خبري ته هم غوږ نه نيسي اوکه علماء نه وي نو داساده لوحه مسلمانان به ډېر ژرد اسلام ددښمنانو په جال کي ښکېل کېږي چي پايلي به يې يوازي د اسلام ددښمنانو په ګټه وي، هغه له ځان څخه مفتي نه جوړوي ، حلال نه حراموي او حرام نه حلالوي ، او اسلامي نصوص په خپله ګټه او د خپل غلط نظر د ملاتړ لپاره نه کاروي ، يوازينی فکر چي هغه تل مشغول ساتي په ټوله نړۍ کي د مسلمانانو مادي او روحي ستونځي وي چي تل يې د حل دلارو د را اېستلو په سوچ او تکل کي وي.

هغه ته که د علماوو اشتباه ګاني په نظر ورشي کولای شي له علماوو سره کېني که د هغوی کومي اشتباه ګاني وي ور ته يې متوجه کړي او که په خپله دی په اشتباه کي وي ويې مني ځکه چي غالباً يو ثوک دا سي فکر کوي چي حق دده په خوا کي ده خو د مناقشې په صورت کي ورته ثابته شي چي حق له مقابل لوري سره ده او انسان ضرور تېروزي خو چي په خپله تېروتنه اقرار او پښېمانه شي هغه د الله تعالی ډېر خوښ دی.

عن أَنَسٍ قال قال رسول اللهِ صلى الله عليه وسلم كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ (سنن ابن ماجه)

له أنس رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: له هر انسان څخه خطا پېښېږي خوښه خطاکار هغه ثوک دی چي په خپله خطا اقرار وکړي پښېمانه شي اوبيا يې خواته ورونه ګرزي.

د علماء دين سپکه غوښتنه د يوه عادي مسلمان په خويونو کي نه وي يو ژورنالېست خو لا په خپل ځای دی ځکه چي هغه خو وښې او په عالي اخلاقو متصف وي.

۱۰ -د لوېديز خپرندويه وسايل د اسلام په خلاف ناوړه تبليغات کوي ، هغوی زمونږ دين د وحشت په څېره کي نړۍ والوته ور پېژني ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مبارک شخصيت په خلاف د بيان د آزادي تر پرده لاندي د ناوړو جرايمو ارتکاب کېږي ، په داسي حساسو شېبو کي د يوه مسلمان ژورنالېست دنده دا ده چي هغه د اسلام ددفاع په مورچه کي تل وښې واوسي او دداسي جرايمو په وړاندي پټه خوله پاته نشي ، د هغوی بېځايه تورونو ته ځوابونه ووايي ، هغه وظيفه لري چي د اسلام روښانه او ځلانده څېره نړۍ والوته ښکاره کړي ، هغه د ژورنالېزم په نړۍ کي د اسلام سفېر ګڼل کېږي او اسلامي امت ور څخه د خپل رسالت په ښه توګه سرته رسول غواړي.

۱۱ -مسلمان ژورنالېست د وخت د حاکمانو او مسئولينو تر اغېزې او فشار لاندي نه راځي ،هغه د حقايقو په وړاندي کولو کي له چا څخه نه وېرېږي ، دا ځکه چي د حقايقو وړاندي کول او خلګ ورباندي خبرول د هغه د مقدسي دندي برخه ده ، د ټولني او اسلامي امت مادي او معنوي ګټي تر هرڅه ورته زيات ارزښت لري ، که د وخت په حکومت کي هرڅومره د عزت مقام ولري خو دمقام ساتنه يې له حق ويلو او خپرولو څخه نه راګرزوي ، داځکه چي هغه په دې ايمان لري چي د انسانيت نېکمرغي او عزت په اسلام کي ده . عمربن الخطاب د اسلام دوهم خليفه رضي الله تعالی عنه فرمايي:

إنا كنا أذل قوم فأعزنا الله بالإسلام فمهما نطلب العز بغير ما أعزنا الله به أذلنا الله (المستدرک علی الصحيحين)

مونږ یوخوار او ذلیل قوم وو خو الله تعالی د اسلام په برکت د عزت مقام ته ورسولو اوس که کله هم مونږ بېرته خپل عزت په بل څه کي لټوو الله تعالی به مو بېرته ذلیل او سپک کړي.

خو که پوه شي چي د هغه په دې خبرو فتنه برپا کېږي او تر ګټي يې ضرر زيات دی بيا د بله حکيمانه لاره غوره کړي فتنه جوړول او فساد خپرول د عادي مسلمان کار نه وي ژورنالېست خو لا په خپل ځای دی.

۱۲ -مسلمان ژور نالېست بايد د تقوی خاوند وی او په خپل هرڅه کي الله تعالی خپل نګران وګڼي او ژورنالېزم يو ه اقتصادي ذريعه او د دخل وسېله او د شهرت آله ونه بولي بلکه هغه يو ستر مسئوليت او دروند باراحساس کړي چي د هغه په غاړه پروت دی اوکه يې نيت په کي د الله تعالی رضا او د اسلام او مسلمانانو خدمت وي يو ستر عبادت دی چي د مادي استفادې تر څنګ به دالله تعالی په نزد ستر اجرونه ولري.

۱۳ - مسلمان ژورنالېست دداسي راپورونو له خپرولو څخه ډډه کوي کوم چي اخلاقي فساد ته وده ورکوي ځکه چي الله تعالی بېحيايي ته تشهير ورکول دکفارو خوی ګڼلی دی فرمايي:

إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ(١٩) سورة النور

بېشکه هغه کسان چي هغوی داخوښوي چي د ايمان په خاوندانو کي بې حيايي خوره او تيته شي دهغوی لپاره په دنيا او اخرت کي دردوونکی عذاب دی او الله تعالی پوهېږي او تاسي نه پوهېږئ.

عن علي بن أبي طالب قال العامل الفاحشة والذي يشيع بها في الاثم سواء (البخاري في الأدب والبيهقي(

له علي رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی فرمايي چي زناکونکی انسان او د همدغي پېښي بيانوونکی شخص دواړه په ګناه کي سره برابر دي.

۱۴ -په اخېر کي به داهم زياته کړم چي يو مسلمان ژورنالېست په خپل مهارت کي د پوهني تر څنګ بايد د اسلام پوهنه هم ولري هغه په اسلام او د هغه په اجتماعي نظام کي بشپړه مطالعه وکړي ځانته يو اسلامي کتابتون ولري چي د اړتيا په صورت کي ورته مراجعه وکړي اسلام يو ډېر دخوند اونېکمرغۍ دين دی هغه يو سپېڅلی اجتماعي نظام لري خو د خواشيني ځای دا دی چي زمونږ ځېرني د هغه په هکله دصفر په نقطه کي دي، مونږ خو دخپلي پوهني دزياتوالي په موخه د غربيانو کتابونه او ناولونه ګورو خو دخپل سپېڅلي دين له ارشاداتو څخه بېخبره پاته يو نور به خپلي چاري په الله تعالی سپارو هغه د هرڅه واکمن او په هرڅا برلاسی دی دا بحث پدې شعرونو چي ستر عبرتونه بکي نغښتي دی پايته رسوم.

وما من كاتب إلا سيفنى ويبقى الدهر ما كتبت يداه

فلا تکتب بکفک غیر شیئ یسرک في القیامة أن تراه

هر لیکونکی به ضرور له دې فاني نړۍ څخه سترګي پټوي او د زمانې په لوحه به یې د لاس لیکني تل پاته وي نو په خپل لاس یواځي هغه څه لیکه چي غواړې د قیامت په ورځ یې په لیدلو خوشاله شې او سترګي د وربانديِ یخي شي.

کتبت وأیقنت یوم کتابتي أن الید تفنی ویبقی کتابها فإن کتبت خیرا ستجزی بمثله وإن کتبت شراً علیها حسابها

ماچي کله دا لیکنه کوله پدې باور وم چي لاس به مي پنا کېږي او لیکنه به پاته وي که مي لاس ښه او د خیر لیکنه کړي وه ښه بدل او ثواب به ورکړل شي اوکه یې بده لیکنه کړې وه نو بیا به یې الله تعالی ته ضرور حساب ورکوي.

لیکنه: ابو خلیل قدوسی

Download from:aghalibrary.com

د لیکنه په نن ټکی آسیا کي خپره شوې ده، د نورو لیکنو لپاره هم نن ټکی آسیا پر لاندي ادرس وګورئ
www.nunn.asia